## د افغانستان د نړیوالې ټولنې په وړاندې د مسؤلیتونو په اړه

19.04.2026

د ملګرو ملتونو د ځانګړو راپور ورکوونکو او د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه د لوړپوړو کارپوهانو د یوې اړیکي له خپرېدو وروسته، د بشري حقونو مدافعانو ټولنه (HRD+) د هغو تګلارو په اړه خپله شدیده غندنه او ژوره اندېښنه څرګندوي چې د وګړو بنسټیز حقونه نقضوي، په ځانګړي ډول د طالبانو د فرمان نمبر ۱۲ د «محاکمو لپاره د جزايي کړنلارې قانون» تر عنوان لاندې د تصویب په اړه.

دغه ډول د حکومتولۍ چلند په افغانستان کې د عدالت ته لاسرسی او د وګړو بنسټیز حقونه سخت محدود کړي او په ځینو مواردو کې یې ترې بشپړ محروم کړي دي.

**د افغانستان نړیوال مکلفیتونه**

افغانستان د یو دولت په توګه لا هم د نړیوالې ټولنې رسمي غړی پاتې دی او د بېلابېلو کنوانسیونونو له مخې مکلف دی چې د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې خپل تعهدات وساتي، پرته له دې چې په حکومت کې بدلون راشي. افغانستان د لاندې تړونونو په ګډون د نړیوالو معیارونو د مراعتولو مسؤلیت لري:

- د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون(ICCPR)
- د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون(CEDAW)
- د شکنجې پر وړاندې کنوانسیون(CAT)
- د ماشومانو د حقونو کنوانسیون(CRC)

په څرګنده توګه، له نړۍ سره معنا لرونکې اړیکې د انزوا له لارې نه، بلکې د همدې اصولو د رعایت او د وګړو د بنسټیزو حقونو د درناوي له لارې رامنځته کېږي.

**د ژوند د حق او انساني کرامت نقض**

د ملګرو ملتونو د کارپوهانو تحلیل ښيي چې د طالبانو فرمانونه په څرګنده ډول د ژوند حق (د ICCPR د ۶ مادې له مخې) هدف ګرځوي:

- د اعدام د سزا غیرقانوني پراخول: د داسې جرمونو لپاره د اعدام سزا ټاکل چې د نړیوال قانون له مخې د «تر ټولو جدي جرمونو» په کچه نه راځي (لکه تکراري غلا او فساد)، د ژوند د حق ښکاره نقض دی.
- سپکوونکي او جسمي سزاوې: د عامه دورې وهلو او نورو جسمي سزاووو قانوني کول، شکنجه او غیرانساني چلند بلل کېږي چې د شکنجې ضد کنوانسیون له مخې په بشپړ ډول منع دي.

**بنسټیز تبعیض او حقوقي توپیر(Legal Apartheid)**

د طالبانو د اداري قانوني فرمانونو د ټولنې یو تبعیضي طبقاتي جوړښت رامنځته کړی (لکه دیني عالمان، اشراف، منځنۍ طبقه او ټیټه طبقه)، چې د قانون پر وړاندې د مساوات اصل یې زیانمن کړی دی. سربېره پر دې:

- د ښځو سیستماتیک ځپنه: د پراخ تبعیض او کورني تاوتریخوالي قانوني کول، ښځې په عملي ډول په عامه او خصوصي ژوند کې له امنیت څخه محرومې کړي او د CEDAW سره په ښکاره ټکر کې دي.
- د ماشومانو د حقونو نقض: د ښوونکو او والدینو له خوا د ماشومانو جسمي سزا ته اجازه ورکول او د نجونو له زده کړو محرومول، د ماشومانو د حقونو له کنوانسیون سره مستقیم تضاد لري.
- د اقلیتونو او مدني ټولنې هدف ګرځول: د «مرتد»، «مبتدع» او «په ځمکه کې د فساد کوونکي-Mufsid fil-Arz)» په څېر مبهمو اصطلاحاتو کارول، د ایډیالوژیک، مذهبي او جنسیتي ځپنې لاره پرانیزي. د جبري دیني بدلون زیاتوالی—چې په روان کال کې نور هم شدید شوی د مدني، کلتوري او بشري حقونو ښکاره نقض دی.

د بشري حقونو د پراخو او سیستماتیکو سرغړونو په زیاتېدو سره، د بشري حقونو مدافعانو ټولنه (HRD+) ټینګار کوي چې عدالت باید د زور او واک د وسیلې په توګه ونه کارول شي. له همدې امله موږ له واکمنو (de facto authorities) غوښتنه کوو چې:

ژر تر ژره هغه تګلارې او فرمانونه لغوه کړي چې د انساني کرامت خلاف دي، او بېرته داسي قوانینو ته ستانه شي چې د عدالت او نړیوالو بشري حقونو له اصولو سره سمون لري.

همدارنګه موږ له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوو چې د ملګرو ملتونو په دې تفصیلي تحلیل تکیه وکړي او پر طالبانو فشار زیات کړي څو د بشریت ضد جرمونو د بنسټیز کېدو مخه ونیول شي. افغانستان د نړیوالې ټولنې برخه ده، او د دې خلکو حق دی چې د داسې قوانینو تر سیوري لاندې ژوند وکړي چې د هغوی انساني کرامت ته درناوی لري.

د بشري حقونومدافعانو ټولنه